د ستراتيژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

گڼه: 393

(12 – 18 سنبله 1401 هـ ش)

# د ډبرو سکاره؛ د افغانستان د ملي عوايدو مهمه سرچينه



دا نشریه د افغانستان او سیمې د مهمو سیاسي، امنیتي، اقتصادي او ټولنیزو پېښو د تحلیل اوونیزه خپرونه ده چې د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز له لوري په پښتو، دري، انګلیسي او عربي ژبو چمتو کېږي او خپرېږي.

## په دې ګڼه کې لولئ:

د ډبرو سکاره؛ د افغانستان د ملي عوایدو مهمه سرچینه ........................................ 3

- مقدمه ........................................................................................ 3
- په نړیواله کچه د ډبرو سکرو کارېدنې ته کتنه ........................................................ 3
- په افغانستان کې د ډبرو سکرو زېرمې ................................................................ 4
- د ډبرو سکرو د بیو لوړوالی.......................................................................... 5
- د هېواد په اقتصاد کې د ډبرو سکرو رول.......................................................... 6
- څه باید وشي؟ ........................................................................................ 7

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

# د ډبرو سکاره؛ د افغانستان د ملي عوایدو مهمه سرچینه

## مقدمه

په دې وروستیو کې د افغانستان د ډبرو سکرو، بهر ته یې د صادراتو او په کور دننه یې د بیو لوړوالي د بل هر وخت په پرتله ډېر پام ځان ته اړولی دی. پاکستان ته د افغانستان د ډبرو سکرو د صادراتو موضوع وروسته له هغه گرمه شوه، چې د پاکستان لومړي وزیر شهباز شریف له افغانستانه د ډبرو سکرو د وارداتو په اړه څرگندونې وکړې او په خواله رسنیو کې یې د افغانانو پراخ بحثونه راپورته کړل. خو دا داسې مهال ده، چې افغان حکومت تراوسه له کوم هېواد سره د ډبرو سکرو د صادراتو په برخه کې قرارداد نه لري، بلکې په داخلي شرکتونو د افغانیو په بدل کې پلورل کېږي او هغوی یې بیا پاکستان ته صادروي.

دا چې له تېر اگست (۲۰۲۱م) راهیسې افغانستان تر نړیوالو بندیزونو لاندې دی او د تېرو دوو لسیزو پرېمانه بهرنۍ مرستې هم تر ډېره حدې بندې شوې دي، له کبله یې افغانستان له پراخو اقتصادي ننگونو سره مخ دی. همدا لامل دی، چې اسلامي امارت په هېواد کې د امنیت له ټینگېدو سره د کانونو استخراج ته هم پوره پاملرنه کړې چې یوه ستره برخه یې د ډبرو سکاره تشکیلوي او په دې برخه کې د اداري فساد له منځته تللو سره له دې برخې د هېواد ملي عواید هم زیات شوي دي. په ورته وخت کې د کانونو د استخراج او په ځانگړې توگه د ډبرو سکرو د استخراج او بهر ته د صادراتو په برخه کې یو شمېر پوښتنې لا هم بې ځوابه دي.

په افغانستان کې د باکیفیته ډبرو سکرو پراخو زېرمو او د هېواد پر اقتصاد یې جوت اغېز ته په کتلو سره، دا موضوع لا ډېرو بحثونو او څېړنو ته اړتیا لري. په دې لیکنه کې په نړیواله کچه د ډبرو سکرو کارېدنې ته د ځغلندې کتنې ترڅنگ، په افغانستان کې د ډبرو سکرو زېرمو، په دې وروستیو کې د ډبرو سکرو د بیو لوړوالي، او د افغانستان په ملي اقتصاد کې د ډبرو سکرو رول ته کتنه شوې او په وروستۍ برخه کې پر دې بحث شوی چې د ډبرو سکرو د استخراج او صادراتو په برخه کې څه کول پکار دي.

## په نړیواله کچه د ډبرو سکرو کارېدنې ته کتنه

د صنعتي انقلاب او د بخار ماشین له رامنځته کېدو سره د ډبرو سکرو کارول او ارزښت په نړۍ کې زیات شو، چې د فولادو او اوسپنې پر وېلې کولو سربېره ډېرى لویې کارخانې پرې چلېږې او د برېښنا په تولید کې ترې گټه اخیستل کېږي. د ۲۰۲۰م کال د شمېرو له مخې، د ډبرو له سکرو د نړۍ تقریبا دریمه حصه یا ۳۵ سلنه برېښنا تولیدېږي، چې



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

د برېښنا په تولید کې يې د نورو ټولو توليدي سرچينو په پرتله ونډه زياته ده. له ډېرو سکرو تر ټولو ډېره برېښنا په چين، هند، سوېلي افريقا او استراليا کې توليدېږي، چې د بېلګې په توګه چين خپله د اړتيا وړ ۵۶ سلنه برېښنا او هند ۴۴ سلنه برېښنا د ډېرو له سکرو څخه توليدوي.

له ډېرو سکرو څخه د استفادې او نورو هېوادونو ته يې د صادراتو له پلوه هم چين او هند تر نورو مخکې دي. چين تقريباً د نړۍ نمايي د ډېرو سکاره توليدوي او همدا هېواد يې تر ټولو زيات مصرفوونکی هېواد هم دی. په صادروونکو هېوادونو کې يې استراليا لومړی ځای لري چې د نړۍ دريمه برخه سکاره صادروي. دويمه او دريمه درجه صادروونکي هېوادونه يې بيا اندونيزيا او روسيه دي. پنځه تر ټولو ستر واردوونکي هېوادونه يې هم هند، جاپان، چين، سوېلي کوريا او تايوان دي.

له بلې خوا، سره له دې چې د ډېرو سکاره د انرژۍ د توليد په برخه کې خورا زيات ارزښت لري، خو روغتيا ته يې هم زيانونه پرېمانه دي. کاربن ډای اکسايد ګاز چې د ډېرو سکرو د کاروني له امله رامنځته کېږي، د اقليم د بدلون سبب ګرځي، په داسې حال کې چې نړۍ ته تر ټولو لوی او اوږدمهاله ګواښ د همدغه ګاز توليد ګڼل کېږي. ترڅنګ يې د هوا ککړتيا هم، چې يو مهم لامل يې د ډېرو د سکرو کارېدنه ده، د انسان روغتيا ګواښي او د سږو، زړه، سرطان، د ماشومانو او زېږون اړوند ناروغيو لامل کېږي.

انسانانو او اقليم ته د زيان رسېدو د مخنيوي لپاره يې بېلابېل هېوادونه او نړيوال بنسټونه هڅه کوي چې د انرژۍ د توليد لپاره د ډېرو سکرو بديل پيدا کړي. په همدې موخه د ملګرو ملتونو د سازمان سرمنشي انتونيو ګوتريش پر ټولو هېوادونو غږ کړی، چې د ډېرو پر سکرو چليدونکو فابريکو له جوړولو ډډه وکړي. همدا راز د پاريس تړون د نړۍ د کُرې د تودخې راکمولو په موخه له هېوادونو غوښتي چې تر ۲۰۳۰م کال پورې په نړيواله کچه د ډېرو سکرو کارول نمايي ته راښکته کړي. په ۲۰۲۱م کال کې د اقليم د بدلون په اړه د ملګرو ملتونو سازمان غونډې (COP26) هم له ۱۲۰ ګډونوالو هېوادونو وغوښتل چې د ډېرو سکرو د کاروني کچه راټيټه او په تدريجي ډول يې د صفر تر کچې ورسوي.

## په افغانستان کې د ډېرو سکرو زېرمې

سره له دې چې د افغانستان تر ځمکې لاندې زېرمو او کانونو په اړه تراوسه کومه دقيقه سروې نه ده شوې؛ خو لومړي مطالعات ښيي چې دا هېواد د ډېرو د سکرو په ګډون پراخې کاني زېرمې لري. د ډېرو سکرو په برخه کې لومړنۍ څېړنې ښيي، چې د افغانستان له ختيځ ولايت بدخشان څخه رانيولې تر لويديځ ولايت هرات پورې د ډېرو سکرو تقريباً ۷۵۰ کيلو متره رګ تر خاورو لاندې پروت دی. ځينې شمېرې ښيي، چې په افغانستان کې له ۱۰۰ څخه تر ۴۰۰ ميليونه ټنه، او يا شاوخوا درې ميليارد متر مکعبه د ډېرو سکاره شته دي.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

له دې سره افغانستان په نړۍ کې لومړنی هېواد دی چې د پرېمانه او با کیفیته ډبرو سکرو لرلو سربېره یې تراوسه هغه نه دي استخراج کړي. د اوږدو جګړو او سیاسي او امنیتي بې ثباتیو، د معیاري ترانسپورتي سیستم نشتون او د ډبرو سکرو کانونو ته د غځېدلو لارو د خرابوالي په ګډون ګڼ عوامل د دې لامل شوي چې دغه کانونه په قانوني او مسلکي ډول تراوسه نه دي استخراج شوي، بلکې په تېرو وختونو کې وخت ناوخت په ناقانونه او غیرمسلکي توګه رااېستل شوي دي.

د شمېرو له مخې، لږ تر لږه د هېواد په ۱۲ ولایتونو کې ۸۰ د ډبرو سکرو کانونه شته دي چې له ډلې څخه یې له ۱۷ کانونو څخه عملا د ډبرو سکاره استخراج کېږي او په هېواد کې دننه د کاربدنې ترڅنګ بهر ته هم صادرېږي.

## د ډبرو سکرو د بیو لوړوالی

په تېرو څو میاشتو کې، په ځانګړې توګه کله چې روسیې پر اوکراین برید وکړ، په نړۍ کې د تېلو بیې لوړې شوې او وروسره جوخت د ډبرو سکاره هم ګران شول. په نړیواله کچه د ډبرو سکرو د بیو د لوړوالي یو اصلي لامل دا و، چې د ډبرو سکرو لوی صادروونکي هېواد اندونیزیا په ناڅاپي توګه د سکرو صادرات کم کړل. په نړیوال بازار کې د روان میلادي کال له پیل راهیسې د ډبرو سکاره شاوخوا درې برابره ګران شوي دي. د جنوري په ۳مه (۲۰۲۲م) په نړیوال بازار کې یو ټن سکاره په ۱۵۷ ډالره پلورل کېدل، خو د سپټمبر پر ۸مه بیا دا بیه ۴۳۹ ډالرو ته رسېدلې وه. همدا لامل و، چې د پاکستان لومړي وزیر شهباز شریف څو میاشتې وړاندې له افغانستان څخه د ډبرو سکرو د وارداتو د زیاتولو امر وکړ او ویې ویل چې له دې درکه به پاکستان هر کال ۲,۲ ملیارده ډالره وسپموي، کوم څه چې په افغانستان کې پراخ غبرګونونه هم وپارول او د مالیې وزارت یې د ډبرو سکرو پر بیو بیاکتنې ته اړایست.

په نړیواله کچه د ډبرو سکرو د بیو لوړوالي، بهر ته یې د صادراتو زیاتوالي او د تعرفې لوړوالي او همدا راز د تېلو د بیو لوړوالي، د سېلابونو له کبله د مواصلاتي لارو خرابوالي او بندېدو د هېواد په داخلي بازارونو کې هم د ډبرو سکرو بیې لوړې کړې دي. د مالیې وزارت په وینا، له ۱۳۹۷ کال راهیسې د یوه ټن صادرېدونکو ډبرو سکرو بیه ۹۰ ډالره وه چې ۲۰ سلنه محصول ترې اخیستل کېده؛ خو له وروستیو تحولاتو وروسته یې بیه د ترانسپورتي لګښتونو او مالیې په شمول لومړی ۲۰۰ بیا ۲۸۰ ډالرو ته لوړه شوه او محصول یې هم له ۲۰ سلنه څخه ۳۰ سلنه ته لوړ شو. د صادراتو په برخه کې یې بیا ګمرکي تعرفه له ۲۷ څخه ۶۰ ډالرو ته لوړه شوې ده.

په داخلي کچه تر کابل پورې یو ټن د ډبرو سکاره تر ۱۵۰۰۰ افغانیو پورې رسېږي. د بېلګې په توګه په بامیانو کې یو ټن په ۶۰۰۰ افغانۍ پلورل کېږي، ۳۶۰۰ افغانۍ مالیه ترې اخیستل کېږي او پاتې یې د موټر کرایه کېږي. په دې توګه اوسمهال د کابل په بازارونو کې د یوه ټن ډبرو سکرو بیه ۱۵۵۰۰ افغانیو ته لوړه شوې ده، په داسې حال کې چې تېر کال په همدې وخت کې د یوه ټن سکرو بیه په اوسط ډول ۹۶۰۰ افغانۍ وه.

## د هېواد په اقتصاد کې د ډبرو سکرو رول

د ډبرو سکاره د هېوادونو په اقتصاد کې له څو اړخونو رول لري. له یوې خوا د بې کارۍ کچه راټیټوي او له بلې خوا د برېښنا د تولید له اړخه ارزښت لري او د صادراتو له درکه یې پام وړ ملي عواید ترلاسه کېږي. د بېلګې په توګه په ۲۰۱۸م کال کې استرالیا د ډبرو سکرو د صادروونکو هېوادونو په سر کې راغله، او د دغه هېواد ۲۰۰ زره وګړو ته پکې د کار زمینه برابره شوې وه او هم یې ۲۰ ملیارده ډالر ملي عواید له دې درکه ترلاسه کړي وو. همدا راز شمېرې ښيي، چې د ډبرو سکرو په سکتور کې د چین ۳ میلیونه وګړي او د هند ۳ لکه کاریګر په کار بوخت دي.

په افغانستان کې د ډبرو سکرو کیندنه د محمد ظاهرشاه د واکمنۍ پر مهال پیل شوه او ترې لاسته راغلي عواید به یې د دولت خزانې ته جمع کېدل. وروسته د مرکزي حکومت د کمزوي کېدو او بې‌ثباتیو له امله د یادو کانونو کیندنه تر ډېره د حکومت له کنټروله ووتله او سیمه‌ییزو زورواکانو د ډبرو سکرو استخراج په ډبرو سیمو کې په خپله ولکه کې واخیست او حکومت ته یې د راتلونکو عوایدو کچه کمه شوه. په دې توګه د سیاسي او امنیتي بې ثباتۍ له کبله په بېلابېلو دورو کې غیرمسلکي او ناقانونه کیندنو زور واخیست او دغه وضعیت په وروستیو څو لسیزو کې په پرله پسې ډول جریان درلود.

له تېر کال راهیسې پر افغانستان د بندیزونو او د نړیوالو مرستو د بندېدو له کبله اسلامي امارت د هېواد داخلي عایداتي سرچینو ته توجه زیاته کړې ده. د حکومتي ادارو له لوري وروستۍ خپرې شوې شمېرې ښيي چې د هېواد ملي عواید د تېر کال په پرتله پام وړ زیات شوي او د هېواد ملي بودجه هم په لومړي ځل له داخلي عوایدو څخه چمتو شوې ده. د ملي عوایدو په لوړوالي کې د کانونو سکتور او په ځانګړې توګه د ډبرو سکرو د استخراج ونډه پام وړ ده. په تېرو کلونو کې په دغه سکتور کې د پراخ مالي فساد له کبله دا عواید د مافیاوو جیبونو ته تلل. د بېلګې په توګه، د افغانستان د روڼتیا څار اداري د ۲۰۱۵ کال د ډسمبر په ۱۵مه د افغانستان د هغو پنځو کانونو په اړه خپل څېړنیز راپور د (هیلو لوټ‌ماران) په نامه خپور کړ، چې د افغان حکومت له‌خوا د کانونو او پطرولیم وزارت پرمټ مختلفو شرکتونو ته پکې قراردادونه ورکړل شوي وو. د دغه راپور له مخې د کانونو د قراردادونو د ورکړې په پروسه کې سیاسي نفوذ، طرفدارۍ یا خپلوۍ مهم رول درلود. همدا راز په دغه راپور کې راغلي وو، چې د ولسي جرګې، مشرانو جرګې او د حکومت جګپوړو چارواکي، ډېرى کانونه د ځان خپلوانو یا هم نورو زورواکانو د شخصي ګټو لپاره ساتي او کاروي.

اوسمهال د هېواد په ملي عوایدو کې د ډبرو سکرو ونډه پام وړ زیاته ده او هره اوونۍ یوازې د ډبرو سکرو د استخراج له درکه تر ۲۰۰ ملیون زیاتې افغانۍ د دولت خزانې ته جمع کېږي. د مالیې وزارت د شمېرو له مخې، د اوو میاشتو په موده کې (د تېر ۱۴۰۰ لمریز کال له سنبلې میاشتې څخه د سږ کال تر حمل میاشتې پورې) مجموعاً شاوخوا یو میلیون او اته سوه زره ټنه د ډبرو سکاره له هېواده بهر په ځانګړې توګه پاکستان ته صادر شوي، چې ګمرکي ارزښت یې تر ۱۶ میلیارده افغانیو زیات او له درکه یې ۳,۹ میلیارده افغانۍ عاید ترلاسه شوی دی. دا په داسې حال کې ده

چې یو کال وړاندې په همدومره موده کې (د ۱۳۹۹ له سنبلې د ۱۴۰۰ تر حمل میاشتې) د ډبرو سکرو د صادراتو ارزښت ایله یو میلیارد افغانۍ و، چې له درکه یې ۲۴۴ میلیونه افغانۍ عاید ترلاسه شوی و.

همدا راز د کانونو او پطرولیم وزارت د چارواکو په وینا، اوسمهال په هېواد کې شاوخوا ۱۰۰ زره کارګر د ډبرو سکرو په کانونو کې کار کوي، چې په خپل وار سره د بې کارۍ د کچې په ټیټوالي کې مرسته کوي او که دغه سکتور لا ښه مدیریت شي، د هېواد وګړو ته د کار موندنې د فرصتونو په برخه کې هم اغېزناک رول لرلی شي.

## څه باید وشي؟

د ډبرو سکرو سکتور د لا غوړېدو او مؤثریت لپاره د لاندې ګامونو په ګډون یو شمېر اقداماتو ته اړتیا لیدل کېږي:

- که چېرې په افغانستان کې د ډبرو سکرو د کیندنې په معیاري کولو کار وشي، عصري ماشینري ورته راوړل شي، کانونو ته ځېدلي سړکونه په اساسي توګه ورغول شي او د کیندنې له پاره یې مسلکي ټیمونه وګمارل شي نو دا به د هېواد پر اقتصاد پام وړ اغېزې وښندي او دولت او ملت دواړو ته به یې ګټې زیاتې شي. تراوسه د ډبرو سکاره تر ډېره په غیرمسلکي او ناقانونه توګه استخراج شوي، چې له یوې خوا د کان کیندونکو تلفات هم زیات کړي او له بلې خوا یې ضایعات او نور زیانونه هم زیات دي.
- له نورو هېوادونو سره ترانزیټ او تجارت مستقیما د هېواد په امنیتي وضعیت پورې هم تړاو لري، چې له همدې کبله په دې وروستیو کې له نورو هېوادونو سره سوداګرۍ او ترانزیټي سوداګرۍ زیاته شوې ده. دغه وضعیت د یوه فرصت په توګه د ډبرو سکرو د صادراتو په برخه کې هم رول لري او افغان حکومت باید هڅه وکړي چې د افغانستان د ډبرو سکتور ته نړیوال بازارونه پیدا کړي. په اوسني وخت کې د افغانستان د ډبرو سکاره پاکستان ته صادرېږي. دغه هېواد د برېښنا د تولید دوو لویو فابریکو ساهیوال (پنجاب) او حب (بلوچستان) د اړتیا وړ سکاره له افغانستان څخه پیري چې په ورځني ډول یې مقدار ۱۵ زره ټنه کیږي؛ خو په ټولیز ډول بیا پاکستان د خپلې اړتیا وړ ۷۰ سلنه سکاره له سویلي افریقا څخه واردوي چې په ډېره لوړه بیه ورته تمامېږي. همدا راز په نړۍ کې د ډبرو سکرو لومړی درجه مصرفوونکی هېواد چین زموږ ګاونډی دی. هند او چین په دې وروستیو کې د افغانستان د ډبرو سکرو رانیولو ته چمتووالی هم ښودلی. له دې کبله که د ډبرو سکرو د صادراتو مدیریت ته ځانګړې پاملرنه وشي او د پاکستان ترڅنګ د نړیوالو بازارونو د موندلو هڅې وشي، نو له درکه به یې ملي عواید د تېر په پرتله لا زیات شي.
- افغانستان اوسمهال د خپلې اړتیا وړ شاوخوا ۷۸ سلنه برېښنا له ګاونډیو هېوادونو څخه واردوي، چې له یوې خوا ډېرې زیات لګښتونه پرې راځي او له بلې خوا وخت ناوخت له تخنیکي عارضو سره هم مخ کېږي او له ګاونډیو هېوادونو څخه وارده شوې برېښنا پرې کېږي. که په هېواد کې دننه د ډبرو له سکرو څخه د برېښنا تولید ته هم

توجه وشي، نو په تدريج سره به د برېښنا په برخه کې پر گاونډيو هېوادونو تکيه راکمه شي؛ ځکه له برېښنا پرته صنعتي وده ناشونې ده او اوسمهال په هیواد کې د صنعتکارانو لپاره یوه له لویه ستونزه د برېښنا کمښت دی، چې له کبله يې يو زيات شمېر فابريکې تړل شوې دي او ان ځينې يې اړ شوي چې خپلې پانګې بهر ته ولېږدوي.

- د کانونو په سکتور کې که څه هم اوسمهال تر ډېره د اداري فساد مخه نیول شوې؛ خو د اداري فساد د مخنیوي لپاره بنسټيز کار ته اړتيا ده. د کانونو او پطروليم وزارت بايد د کانونو په قانون کې تعديلات راوړي؛ ځکه د فساد د مخنيوي په اړه پکې څه نشته. همدا راز د هغو کانونو په اړه چې حکومت پخوا پريکړه کړې وه، چې جواز به يې ولايتي رياستونه ورکوي، بايد بېرته مرکزي شي، ترڅو ځايي زورواکو او مافيايي کړيو ته بيا زمينه برابره نه شي. د دې ترڅنګ د کانونو د قراردادونو د ورکړې سيستم بايد رقابتي او پرانيستی وي، ترڅو هر څوک پوه شي، چې دوی د کومو لاملونو له کبله قرارداد ترلاسه کړی او د کومو له کبله يې قرارداد ترلاسه نه شو کړای. همدا راز ټول هغه قراردادونه چې د کانونو وزارت ورکړي وي، بايد خپاره کړای شي.
- وروستی او مهمه موضوع هم د هېواد په داخلي بازارونو کې د ډبرو سکرو د بيو لوړوالی دی. دا چې ژمی راروان دی، د عامو وګړو خراب اقتصادي وضعيت ته په کتلو سره دا غوښتنې هم شته دي چې حکومت يوه داسې طرحه عملي کړي چې په هېواد کې دننه د ډبرو سکرو بيې راټيټې شي ترڅو يې عام وګړو د رانيولو توان ولري. له دې کبله حکومت ته په کار ده، چې د کورنيو مصرفوونکو لپاره –هم د بې وزله وګړو لپاره او هم د فابريکو د مصرف لپاره- بايد يو ډول سبسايډي يا مراعات موجود وي. د بېلګې په توګه، د محمد ظاهرشاه په وخت کې په سړو سيمو کې شاوخوا يونيم ټن د ډبرو سکاره د دولت کارکوونکو لکه ښوونکو او اجيرو کارمندانو ته په کم نرخ ورکول کېدل. د داسې يوې طرحې عملي کول او په داخلي کچه د دولت له لورې په کم نرخ د ډبرو سکرو د پلور مديريت به لا زياتو خلکو ته د کار زمينه هم برابره کړي. له دې پرته د صادراتو لپاره د نړيوالو بيو په پام کې نيولو سره به مناسبه بيه نورو هېوادونو ته صادر شي.

پای

د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز نادولتي، غير انتفاعي او خپلواک ارګان دی، چې په ۱۳۸۸ لمريز کال کې په کابل کې جوړ شوی. دغه مرکز د خپلو بې‌پرې او کره څېړنو له لارې، په افغانستان او سيمه کې د پاليسيو د ارزونې او بډاينې لپاره فعاليت کوي.

**له موږ سره اړيکه:**

ايميل: csrskabul@gmail.com info@csrskabul.com

وب سايت: www.csrskabul.net - www.csrskabul.com

شمېره: ۰۰۹۳۷۸۶۰۰۹۶۹۹+